هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړی کال ، ۳۳ گڼه ،چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دثور ٤ مه

عملیات راکتی مجاهدین بر میدان هوايي بگرام

درصحفه ۸

ولسوالي دشت ارچي ولايت کندز بدست مجاهدین فتح شد

کندز میدیا :
یك منبع جهادی به میدیا گزارش داد ، ولسوالی دشت ارچی ولایت کندز طی عملیاتی هم اهنگ مجاهدین بتاریخ ۱۹ حمل بدست مجاهدین افتاد .
راپور می افزاید درجریان این عملیات پیروزمندانه ۱۰۰ نفر ازافراد رژیم مستقر درین ولسوالی به اسارت مجاهدین درامده ویك صد قبضه سلاح مختلف النوع نیز غنیمت شده است .
درخبر امده است که مجاهدین یك حمله تعرضی

درصفحه (٤)

PROPERTY OF ACKU

الحاج حقاني دخوست دجهادی قوماندانانو دشوراپه مشری، یوه مطبوعاتی کنفرانس ته په خطاب کې وویل :

مجاهدین غواړي خوست بیرته آباد کړي پلونه ، روغتونونه اوښوونځی فعال کړي له همدې امله له ملګرو ملتونو اودوستو هیوادو څخه دمرستې اوهمکارۍ غوښتنه کوي

(۲)مخ کی

دکابل کمونست رژیم داسعداباد ښار دسکڼ په راکټو وویشت

۳۰۰ تنه شهیدان او ۷۵۰ تنه ټپیان شویدي

ښارته دروند مالي تاوان اوښتی دی

دکنړولایت په مرکز داسعد آباد په ښاریاندی دکابل دکمونست رژیم دسکڼ توغندیو دحملی په اثر څه دپاسه دری سوه تنه شهیدان او له او و سوو نه زیات خلك ټپي اودښار یوه برخه ورانه شوی ده .
درارسیدلو خبرونو سره سم پدغه حمله کی چی دشنبی دمازدیگر په شپږ نیمو بجو دکابل نه ددریو سکڼ توغندیو په توغولو سره ترسره شوه یویی داسعد اباد په ښار کی دمجاهدینو په یو مرکز ولګید چی دهغه په اثر په نوموړي مرکز کی داور ولګیدو له امله یو شمیر مجاهدین شهیدان اوزیات شمیر نوریی ټپیان شوي دي همدارنګه دوهم سکڼ دښار په منځ کی ولګید چی دهغه

څلورم مخ کی.

مجاهدینو دبغلان په ولایت کی درژیم یوه پوسته فتح کړه

میدیا ، بغلان :
دقوماندان مولوی محمد قل شریعتی دراډیویی پیغام په حواله ویل شوی دی چی مجاهدینو دحمل په ۱۸ نیټه دپلخمرخی ولسوالی دغرب په ۳ کیلو متری کی درژیم دملیشو په امنیتی پوستو باندی دیو تعرضی برید په جریان کی یوه پوسته فتحه کړه چی په نتیجه کی ۳ تنه ملیشه وژل شوی او ۲ تنه نوریی ژوندی نیولی اوهم یی ۲۲ میله درنده اوسپکه وسله ولجه کړی ده .
رپوټ وایی چی پدغه برید کی دمجاهدینو څخه یو تن شهید او ۲ تنه نور ټپیان شول .

قوماندان فرقه ۱۵ ورئیس ارکان قول اردوی قندهار به هلاکت رسیدند

گزارشگر میدیا ازکابل خبر داد که مجاهدین بروز ۳ حمل زرهپوش حامل برید جنرال پاینده محمد هود خیل قوماندان فرقه ۱۵ ورئیس ارکان قول اردوی ولایت قندهار راکه بقصد مشاهده ومعاینه قطعات عسکری اش به یکی ازقرارگاه های داخل شهر قندهار رهسپار بود ازفاصله نزدیك هدف راکت قرارداده وقوماندان موصوف را به هلاکت رسانیدند .
درخبر علاوه شده که جسد موصوف بکابل انتقال وبروز ۵ حمل درکابل دفن گردیده است .

سرمقاله

دخوست مشالي فتحه دجهاد په سنګرونو کی نوي جذبه اوتحرك

دری اونی دمخه دلوی خدای (ج) په مرسته او دمجاهدینو دمتحدو بریالیو عملیاتو په نتیجه کی ددښمن دناولو منګولو زموږ دهیوادیوی ډیری مهمی اوستراتیژیکی نقطی (خوست) آزادی اوشپږی فتحی زموږ دمجاهد ملت په جهادی قوت اوځواك کی نوی تحرك رامنځ ته کړ اودجهاد په لیکو اوصفونو کی رامنځ ته شوی نسبی رکود له یوی مخی مات شو .
له افغانستان څخه دروسی قواو ترولو وروسته دجهادی قیادتولو ترمنځ دموجوده اختلافاتو ترڅنګ له مجاهدینو سره دمرستودکموالی موضوع له یوی خوا اودروسانو دمزدور رژیم سره دروسانو په پوځی مرستو کی څو چند

۸ مخ کی

دتاجکستان مسلمانانو ته وروسته له ۷۰ کلونو دروژی نیولو اوداختر لمانځلو اجازه ورکړل شوه

مسکو دحمل ۲۹ مه :
دروسیی دتاجکستان په جمهوریت کې له ۷۰ کلونو وروسته مسلمانانو ته ددی اجازه ورکړل شوه ترڅو روژه ونیسی اوداختر ورځی ولمانځی .
دتیرو ۷۰ کلونو په اوږدو کی دتاجکستان دحکومت له خوا دروژی پرنیولو باندی ډیر ټینګ بندیز لګیدلی وُخو سږکال دروژی نیولو څخه پرته دلومړی ځل لپاره داختر په ورځو کی رسمی رخصتی ورکړل شوه .
سږکال دتاجکستان بی شمیره مسلمانانو روژه ونیوله .
دروژی په میاشت کی دتاجکستان په ټولو برخو کی دورځی له خوا هوټلونه اورستورانتونه تړلی وُ ، اوعالمانو دتلویزیون اوراډیو له لاری خلکو ته دینی مسایل اودروژی دمبارکی میاشتی فضایل تشریح کول.

دجوزجان ولایت دسرپل په ولسوالی کې ٦٠ پوستې فتحه شوې

میډیا ، دحمل ۳۱ :
دمجاهدینو یو خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دحمل په ۲۹ او ۳۰ نیټه دجوزجان دسرپل په ولسوالی پوری مربوط ځینو سیمو کی درژیم دقواو په پوستو باندی دګڼوبریدونو په جریانکې ٦٠ پوستی نیولی او۳۰ کلی یی په مکمله توګه درژیم دقواو څخه آزاد اوپه خپل کنټرول کی راوستی دی .
خبر ځای وایی چی پدغو بریدونو کی درژیم دقواو ۷۰ کسان مړه اوټپیان شول او ۱۲۰ تنه یی مجاهدینو ژوندی نیولی دی .
خبر ځای زیاتوی چی پدغه پیښه کی مجاهدینو یو عراده زرهدار ټانك،یو موټر ، ۱۲۰ میله درنده اوسپکه وسله له زیاتی اندازی مهماتو اوخوراکی موادو سره په ولجه نیولی دی .

خوست یو ستر اومهم ستراتیژیك مرکز دی ، اوس مجاهدین له دغه ځای څخه پر ګردیز، غزني اوحتی کابل باندې دحملې لپاره مؤثره استفاده کولی شي « الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

دخوست فتحه

دمسکو - کابل گډې چیغې !!

رحیمزی

څه دپاسه یوه میاشت دمخه کله چې دپکتیا ولایت سرتیرو مجاهدینود خوست پرمحاصره شوی ښاربانډی خپل پریکنده اوسرنوشت ټاکونکی عملیات پیل کړل ، په کابل کی دروس لاس پوځی رژیم خپلی هغه زړی ناری سوری یو ځل بیا پیل کړی چی پاکستانی پوځیانو دافغانستان په خاوره تیری کړی اوافغانی اپوزیسون !! ته دوسلو اومهماتو له برابرولو سربیره دهغوی په څنگ کې دافغانستان دجمهوری دولت !! پرضد په جگړه کی هم برخه اخلی !!.

په خوست کی زموږ دمجاهدینو دمنظمو اوکفر ځپونکو حملو له هماغه لومړی شیبو څخه دکابل رژیم دانقلابی پوځونو !! په نامنظمه لیکو کی ویره اوډارننوتی ؤ اوله همدی امله ؤ کله چی دزړورو مجاهدینو گروپونو ددوی پر هرپوځی مرکز یرغل کړی ، ددی مورال بایللو پوځونو یوه گڼ شمیر تیښتی ته پرمقاومت ترجیح ورکړی اویو شمیر نوریی دموقع څخه په استفادی سره دمجاهدینو له لیکو سره یوځای شوی چی بالاخره دیوی میاشتی پریکنده او متحده عملیاتوپه نتیجه کی دخوست ښار زموږ دمومنو مجاهدینو په لاس فتحه شو ، اوپدی توگه دنجیب دلړزانده رژیم دستگاه یوځل بیا ولړزیده !! .

دکابل مزدور رژیم چی درواغ ویل یی له خوراپخوانیو اوازلی عادتونو څخه دی ، پرخوست باندی دمجاهدینو دپرله پسی اومتحدانه بریدونو له پیل څخه وروسته وارخطا ناری سوری پیل کړی اوخپله هغه پخوانی سندره یی چی اوس ډیر تکرار له امله په هیڅ ځای کی اوریدونکی نلری ، یو ځل بیا تکرار کړه ، چی گواکی دپاکستان حکومت دجینوادترون له مفاداتو څخه سرغړونه کوی اودهغوی‌پوځونه دخوست په حمله کی دکابل رژیم پرضد جنگیږی !

دکابل رژیم دغه ادعا څه نوی خبره نده ، چیرته هم چی مجاهدینو دبریالیو عملیاتو په وجه دکابل توپك په زور راټول شوی پوځ ماتی خوړلی ، چیرته چی دحق دلاری اتلو سپاهیانو دباطلو قوتونو دجرړوایستو لپاره اقدام کړی ، دنجیب مزدور رژیم همداکوکی پورته کړی چی گواکی دادپاکستان پوځ دی ، چی ددوی پرخلاف په جگړه لگیا دی نه مجاهدین ! دکابل دبهرنیو چارو وزیر پلورل شوی وکیل دخپل حکومت عرض دملگرو ملتوترسازمانه هم ورساوه ، اوددی سازمان له عمومی منشی څخه یی غوښتنه وکړه ، ترڅو دافغانستان په حالاتوباندی دامنیت شورا فوق العاده غونډه راوبلل شی ! ځکه دپاکستان حکومت دافغانسان په کورنیو چارو کی مداخله کوی دپاکستان پوځیان په مستقیم ډول له مجاهدینو سره ملگری دي ! بل لوری ته دروس دبهرنیوچارو وزارت یوه ویندوی پرخوست باندی دمجاهدینو دبرید څخه څو ورځی وروسته په مسکو کی دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی ، پاکستان ته په کلکه اخطارورکړ ، ترڅو دافغانستان په کورنیو چارو کی له مداخلی څخه ډډه وکړی. نوموړی ویندوی په

(٥)مخ کی

راپور تران : ر، ملاخیل او احمد ضیا « ذ ، عدالتیار » عکاسي احمد سینا « احمدي »

مجاهدین غواړي خوست بیرته اباد کړي پلونه روغتونونه اوښوونځي..

دروان کال دحمل میاشتی په (۲۱مه) نیټه دچهارشنبی په ورځ دخوست دفتحی کیدو دڅرنگوالی اوهلته دمجاهدینو دستراتیژی اوابتکاراتو دتشریح اوهمدارنگه دمزدور رژیم له قواو څخه دنیول شویو لوړ رتبه پوځی افسرانو دمعرفی کولو اوورښودلو لپاره یو مطبوعاتی کنفرانس جوړشوی ؤ ، چی یو گڼ شمیر پاکستانی ، افغانی اوبهرنیو خبریالانو اوژورنالستانو پکی گډون درلود .

دغه مطبوعاتی کنفرانس چی دخوست دجهادی قوتونو دگډی شورا دقوماندانانو له خواد افغانستان سرحد ته نژدی دمیرامشاه په ښارکی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی ترمشری لاندی دمنبع العلوم مدرسی په تالارکی جوړشوی ؤ ، دغرمی ددولس نیمو بجو په شاوخوا کی دمولوی اخترجان له خوا دقران عظیم الشان دڅو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شو ، چی له هغی وروسته ، الحاج مولوی جلال الدین حقانی ددغه اوه کسیزی شورا په مشری دکنفرانس ستیج ته وبلل شو ، ترڅو خپله وینا ، وړاندی کړی .

الحاج مولانا حقانی ترټولو لومړی دژورنالستانو خبریالانو اومیلمنو راتگ ته ښه راغلاست وویلو اوزیاته یی کړه :

« زه به کوشش وکړم ترڅو دلته تاسی ته دخوست دفتحی مکمل حالات تشریح کړم ، همدارنگه دلته به تاسی دهغه جنگی اسیرانو سره کوم چی دکابل رژیم له قواو څخه دخوست دجگړی په ترځ کی نیول شوی دي وگوری همدارنگه تاسو به هغه کډوال اومهاجرهم وگوری چی ددی جگړی له امله پاکستان ته په راتگ مجبورشوی دي . »

تریوی لنډی مقدمی وروسته الحاج مولوی جلال الدین حقانی پرخوست دمجاهدینو دحملاتو تاریخی پس منظر په هکله داسی رڼا واچوله :

« دخوست جگړه خورا اوږد تاریخ لري ، خو پدی منظورچی مجاهدین باید دخوست ښار ونیسی تراوسه پوری داسی یو پلان نه ؤ جوړشوی ، ددی دولس کلنی جگړی اوجهاد په جریان کی مجاهدینو دخپلو عملیاتو په وسیله دخوست ښار دمحاصری کړۍ‌ورتنگوله ، اوددی کلونو په ترڅ کی دوه ځله دخوست ښارپه دننه کی دنظامی کودتا پلان هم جوړشوی لومړی ځل ډیر مخکی چی دیو کم شمیر مجاهدینو ارتباط ورسره ؤ ، خو هغه پلان ناکام شو ،اودوهم ځل شپږمیاشتی مخکی ، چی هغه هم دناکامی‌سره مخامخ شو ، تردی وروستیو عملیاتو پرته تراوسه دښار دنیولو پلان دمجاهدینو له خوا ندی جوړشوی ، یواځی همداځل دښار دنیولو لپاره پلان جوړشو، چی الحمد لله موفق شو . »

په همدی ډول الحاج حقانی دکابل مزدور رژیم لپاره دخوست ښار دستراتیژیك اهمیت په هکله خبریالانو ته داسی معلومات ورکړل :

« خوست ددښمن یو قوی سنگر ؤ ، چی ددښمن له پاره دهغی اهمیت پدی ملحوظاتو ډیر زیات ؤ:

۱- خوست یو سرحدی ښارؤ چی ډیره سیمه یی دخپل امنیت لپاره په کنترول کی درلوده .

۲- دپاکستان دسرحدی قبایلو سره یی پټ ارتباطات درلودل ، اودلته په پاکستان کی یی دهغوی په وسیله تخریبی فعالیتونه ترسره کول.

۳- دخوست ښار په شاوخوا کی دمجاهدینو ډیری زیاتی اکمالاتی لاری وی ،چی مجاهدینو په هغه لارو دیوی سیمی څخه بلی سیمی ته تگ راتگ درلوده ، چی دغه لاری ددوی له خوا کنترول کیدلی اوپرمجاهدینو بندی وی .

٤- دمجاهدینو ډیره زیاته نظامی اوافرادی قوه پرخوست باندی مصروفه وه ،اوددوی سره په جگړه بوخت ؤ .

٥- په هیڅ ښار اوولایت کی دومره قوی محلی ملیشه نه وه لکه په خوست کی چی وجود درلود ، ددی امله هم په خوست کی دمزدور رژیم پایه ډیره مستحکمه وه . »

الحاج حقانی دخپلی مفصلی وینا په بله برخه کی دخوست په‌ښارباندی دمجاهدینو دگډو اوپریکنده عملیاتو مختلفی مرحلی خبریالانو اوژورنالستانو ته تشریح کړی .

ده دخپلو خبرو په ترڅ کی شخصاً دنجیب لپاره دخوست ښار داهمیت په هکله داسی وویل :

« دخوست پاتی کیدل دمزدور رژیم سره دنجیب لپاره دخپل ژوند بقا اوحتی صدارت په قیمت تړلی ؤ ، نجیب په پوره صراحت اعلان کړی ؤ که چیری خوست سقوط وکړی ، نوزه به له خپلی دندی څخه (دافغانستان دجمهور رئیس په توگه) استعفا کوم ، دنجیب لدی وینا څخه دهغه لپاره دخوست دښار اهمیت څرگندیږی ، خوالحمد لله مجاهدینو دخپل اتحاد اوهماهنگی‌اودروژی دمبارکی میاشتی په برکت اودخدای (ج) په مرسته دخوست ښار فتحه کړ. »

الحاج مولانا حقانی دخپلی وینا په بله برخه کی دخوست له فتحی وروسته دنجیب دمزدور رژیم له خوا دبی ځایه اتهاماتو اوتورونو په هکله وویل :

« دخوست په فتحی سره ، نجیب ډیره لویه ماتی وخوړه ، ځکه نو دخوست له فتحی وروسته یی په نارو سوروپیل وکړ ، اوداتهامات یی په مجاهدینو اودپاکستان په حکومت ولگول ، چی دپاکستان ملیشه اوپوځونه دمجاهدینو سره یو ځای دخوست پرښار باندی یرغل کوی ، اوحتی دملگرو ملتو ترسازمان پوری یی هم خپل عرض ورساوه ، حال دادی چی دمجاهدینو دحملی په لړکی زیات شمیر خبریالان اوژورنالستان دلته راغلل ، خودوی کوم پاکستانی پوځی یا د پاکستانی ملیشه و کوم فرد له مجاهدینو سره ونه لید ، موږ دجگړی په جریان کی هم نړیوالو سازمانونو اوموسساتو څخه غوښتنه وکړه ترڅو راشی اودلته دمجاهدینو سنگرونه وگوری اوداثابته کړی چی دپاکستان ملیشه یا پوځیان په کوم ځای کی دی ؟ دنجیب دغه بی ځایه تورونه دمجاهدینو په پلان گذاریو هیڅ اثر نلری »

الحاج حقانی دخپلی وینا په وروستی‌برخه کی دخوست ولسوالی‌دقوماندانانو دشورا په مشری‌دملگرو ملتوسازمان له استازو څخه غوښتنه وکړه ترڅو راشی په خوست کی دنجیب رژیم دغیر انسانی اعمالو لیدنه کتنه وکړی ، ده وویل :

« دنجیب حکومت په جگړه کی دشرم وړ، غیر انسانی اعمالو مرتکب شوی ، موږ مجاهدین‌اوقوماندانان دملگرو ملتو سازمان استازوته بلنه ورکوو ،ترڅو راشی اودلته دنجیب غیر انسانی اعمال له نژدی څخه وگوری ، نجیب یو زیات شمیر واړه ماشومان عسکری قطعاتو ته په زور اوجبر احضارکړی ، اوهغوی یی دمجاهدینو سره دجگړی ډگر ته رالیږلی ، دفتحی څخه وروسته کله چی پدی پوه شو چی خوست ددوی له کنترول څخه وتلی نودسکډ توغندیو اوبمباریو سلسله یی پیل کړه ، چی له هغی څخه یی هدف یوازی اویوازی دخوست دښار تخریب دی ، که نه دوی پدی ښه پوهیږی چی خوست دبمباریو اوسکډ توغندیو په وسیله اوس لاس ته نه ورځی ، دنجیب دغه کارونه دبین المللی قوانینو څخه سرغړونه ده ،باید دملگرو ملتو سازمان استازی راشی دغه سیمه له نژدی څخه وگوری اودنجیب ددغه اعمالو څخه مخنیوی وکړی . »

حقانی صاحب دخپلی وینا په خاتمه کی دخوست په فتحه شوی ښارکی دراتلونکی لپاره دمجاهدینو دپلانونو په هکله داسی وویل :

« زموږ مجاهدین اوقوماندانان غواړی ترڅو خوست بیرته اباد کړی مهاجرین بیرته خپلو سیمو ته ستانه شی ، نوددی لپاره چی خوست بیرته اباد شی ،

دخوست پاتې کیدل له مزدور رژیم سره ، دنجیب لپاره دخپل ژوند ، بقا اوحتی صدارت په قیمت تړلي ؤ ، نجیب په پوره صراحت اعلان کړی ؤ که چیري خوست سقوط وکړي ، نوزه به له خپلي دندي څخه استعفا کوم

(٦)مخ کی

دخوست فتحه

مرزاخيل

افغان مجاهدينو دپكتيا ولايت چي په کوچني مسکو هم مشهور ؤ دكال ۱۹۹۱ دمارچ په اخري هفته كي تقريبا داتلسو ورځو خونړي جنگ نه پس فتح كړو اودښار دحفاظت دپاره يي خواوشا حفاظتي قلاگاني هم جوړي كړي - دغه جنگ كي په ډير گڼ شمير وسله دمجاهدينو لاس ته ورغله.

په خوست دافغان مجاهدينو دقبضي په وجه دافغانستان په جنوبي اوشرقي برخو كي دكابل انتظاميي په هغو ډيرو اهمو عسكري اډو كي يوه ختمه كړي شوه ، كومي چي دخوست نه علاوه ثمرخيل د«جلال اباد» اوقندهار كي ډيري مضبوطي دفاعي اډي ياديدلي ، دثمرخيلو حفاظتي اډه خوله افغانستانه دروسي فوځونو دوتلونه پس دكال ۱۹۸۹ په مارچ كي هغه وخت ډړي وړي شوه ، كوم وخت چي مجاهدينو په جلال اباد بريد كړي وو ، كه څه هم دجلال اباد دتسخير مرحله لا پاتي ده او مجاهدينو دادي نن هم پخپل زور اوقوت دتورخم نه ترثمرخيلو په بين المللي شاهراه اوسيمو قابض دي.

دخوست جنگ ددولس كلني جهاد په دوران مجاهدينو ښه په ميرانه وگټلو ، په خوست دكاميابي دپاره ديو اوږد انتظار نه پس اوس دمجاهدينو دپاره په كابل تروحمله كول ډيره اسانه شوه ، هركله چي دخوست په جنگ كي ډيري درني وسلي هم دمجاهدينو لاس ته ورغلي دي ، ددغو وسلواو الوتكو په وجه به نه صرف مجاهدين دكابل انتظاميي دهوايي حملو مقابله وكړي

> هركله چي دخوست په جنگ كي ډيري درني وسلي هم دمجاهدينو لاس ته ورغلي دي ، ددغو وسلو او الوتكو په وجه به نه صرف مجاهدين دكابل انتظاميي دهوايي حملو مقابله وكړي شي بلكي دغه به ديوي حتمي فتحي اوكاميابي هم باعث شي

شي بلكي دغه به ديوي حتمي فتحي اوكاميابي هم باعث شي اوس وخت دتولو نه زيات ضرورت ددي خبري دي چي مجاهدين په خپلو صفونو كي اتحاد ته توجه وكړي - ځكه چي دخوست غوندي اهم ښارد لاس نه وتلو نه پس به اوس دگوډاگي حكومت انتهايي كوشش داوي ، چي دمجاهدينو ترمنځه ددوي اتحاد ته نقصان ورسوي .

كه څه هم خوست دډيري مودي راهيسي مجاهدينو محاصره كړي وو اوچي څه وخت ټولو مجاهدينو په متحده ډول په دښمن حمله وكړه ، نو نتيجه يي كاميابي شوه ، چي دافغانستان دبحران په حل به يي درانه اثرات مرتب شي ، په خوست دكاميابي نه پس لازمي دي چي مجاهدين به اوس په كابل دحملي تابيا كوي اوددي نه مخكښي چي مجاهدين په كابل حمله وكړي ، گوډاگي حكومت به مجاهدينو سره په يوه په منطقي حل مجبورشي ، هركله چي دنجيب هم دغه گوډاگي حكومت له افغانستان نه دروسي فوځونو دواپسي نه پس كوم منطقي حل ته غاړه نه ايښودله ، او دافغانستان دملي دحل دپاره هغه وخت روس څه داسي قسمه شرطونه وړاندي كړي وو ، چي هغه مجاهدينو دپاره دمنلو وړ نه وو.

افغان مجاهدين به خپله دغه مطالبه چيري هم پري نږدي چي ترڅو چي كومه وطن فروشه اوملت فروشه نجيب له منځه تللي نه وي ، دهيڅ قسمه سياسي حل لاره ممكنه نه ده اوهم ددغه ملت فروشه دلري كيدو نه پس افغانستان كي دولس په خوښه حكومت قايم شوي نه وي.

ولي روس په افغانستان خپل گوډاگي حكومت برقراره ساتل غواړي ، ځكه دخاين نجيب په لري كيدو خوښ نه دي ، او افغان مجاهدينو دپاره داخبره ناممكنه ده ، چي دهغو خلقو سره دي په يو ميز خبرو ته كښيني دچا لاسونه چي دملت په بيگناهو وينو سره دي ، ځكه دمجاهدينو مطالبه معقوله ده اوبايد چي روس دحقيقت پسندي نه كارواخلي اودمجاهدينو مطالبو ته غاړه كيږدي ،

> په خوست دكاميابي نه پس لازمي دي چي مجاهدين به اوس په كابل دحملي تابيا كوي اوددي نه مخكي چي مجاهدين په كابل حمله وكړي گوډاگي حكومت به مجاهدينو سره په يوه سياسي تصفيه مجبور شي

خوداسي معلوميږي چي افغانستان كي دتش لاسو مجاهدينو له خوا دشكست باوجود بياهم روس څه عبرت حاصل نكړو ،او خپل گوډاگي حكومت ته لگيادي اوس هم وسلي وركوي .

ولي هركله چي روس خپله باوجود ددغووسلو ټينگ نه شو نودهغه گوډاگي به څه ټينگ شي .

دخوست موجوده فتح دكابل دفتحي پيش خيمه ده ددغه مهم ښهرخوست دفتحي سره دافغان جهاد دنامور اوجليل القدر كماندر جلال الدين حقاني په سرده اوهم دهغو دجنگي حكمت عملو نتيجه وه چي نن يي يو ځل بيا دنيا ته وښودل، چي دكمونستي نظام نه دآزادي دپاره دهغوي جهاد نن هم جاري دي اوترهغه وخته به جاري وي ترڅو دروس دمزدور رژيم خاتمه نه وي شوي ، دمولانا جلال الدين حقاني دافتح ديو ښهر يابوي چونې فتح نه ده بلكي عنقريب په افغانستان كي ديو اسلامي حكومت دقيام پيش رفت دي ، په دغه فتح مولانا صاحب موصوف دافغانستان په عسكري تاريخ كي ديونوي باب اضافه وكړه ، مولانا جلال الدين حقاني دغه نه وړاندي هم په پكتيا صوبه كي دډيروعلاقائي فتوحاتو وياړ لري ، او په خوست دكاميابي په وجه يي نن نوم په ټوله نړۍ خپور دي

موږ په افغانستان كي څه وليدل؟

په افغانستان كي دنيول شوو روسي عسكرو خاطري

دمسلم ژباړه

په تير پسي

«گريگوري وكتر» دهغو روسي پوځيانو له جملي څخه دي چي څو مياشتي يي دالوتكوضد وسلو چلولو دنده سرته رسولي ، هغه دكابل په شمالي برخو جبل السراج اوپنجشير كي شپي ورځي سبا كولي خوهغه حيران ؤ چي ددښمن يوه الوتكه هم دي سيمو ته نه راتله اونه دكومي بلي سيمي څخه دهوايي حملي خبر اوريدلي كيده .

گريگوري اوس دمجاهدينو ترلاس لاندي شپي ورځي سبا كوي ، داخبره اوس ده ته روښانه شوي چي روسانو له دي لاري چي پوځيان يي دالوتكو ضد توپونو اووسلو ته كينولي ؤ په خپله خپلو پوځيانو سره چل اودوكه بازي كوله ، روسانو ددي دوكه بازي لپاره دزياتو دروغو څخه استفاده كوله افغانستان ته ترراتگ دمخه يي دوي ته ويل چي پر افغانستان باندي بهرنيو قواوو يرغل كړي هغوي به تل خپل پوځيان په دي وېرې كي ساتل چي دامريكا ، چين او پاكستان الوتكي به حملي كوي

داخبره يي گريگوري وكتر ته افغانستان ته تر راتگ دمخه هم كړي وه دي دالوتكو دمقابلي په خاطر روزل شوي ؤ اودهمدي مقصد په خاطر دهوايي دفاع يوه ټولگي سره كابل ته راوړل شو ، د۱۹۸۵ كال دمارچ په ۲۲ وكتر دنورو ملگرو سره افغانستان ته راغي هغه ته په سركي دجبل السراج سري كلا په يوه روسي كمپ كي دنده وروسپارل شوه دلته ده ته دالوتكو ضد وسلو چلولو وظيفه وروسپارل شوه خوديوي مياشتي ترتيريدلو وروسته كله چي هغه يوه بهرني الوتكه هم ونه ليده دخپلو لوړرتبه ملگرو څخه يي ددي كار دوجي پوښتنه وكړه هغه ته وويل شول چي داور كوتي كمپ دي مهم جنگي مركز په پنج شير كي دي پرهغه ځاي هوايي حملي كيږي ، څه وخت وروسته چي هغه پنجشير ته وليږل شو بيايي هم دبهرنيو هيوادو

كومه الوتكه ونه ليده دلته هم دده پوښتنو ته دځواب وركولو په ترڅ كي وريل شول ددي په خاطر چي داسيمه دسرحد څخه لري ده ددښمن الوتكي په سرحد كي راغورځول كيږي نه شي كولي چي دي خواته پرمخ راشي .

دسيمي له خلكو اوافغاني پوځيانو سره خبرو اوناستي باندي سخت بنديز ؤ خوډير زر هغه په هر څه وپوهيد ددوي پوځيان دځمكي له مخي څخه دتنكيوځوانانو دله منځه وړلو په خاطر راغلي ؤ ، هلته خو دروسانو پرته دكوم بل هيواد پوځيان نه ؤ دالوتكو پوښتنه ځنگه پيداكيده ؟! ده له خپلو پوځيانو اوصاحب منصبانو څخه كركه كوله ده ددندي دسرته رسولو پرځاي يوي بلي خوا گرځيدل پيل كړل او دنورو ترليدلو وروسته يي پوځي موټرو څخه سامان اوتيل راوباسل اوهغه به يي خرڅول .

مجاهدينو هغه ځنگه ونيوه ؟ ددي پوښتني په ځواب كي گريگوري وكتر وويل : يوه ورځ ماديوه پوځي موټر څخه تيل راايستلي ؤ اوغوښتل مي هغه په بازار كي خرڅ كړم چي دوو مجاهدينو ونيولم ، هغوي داحمد شاه مسعود مجاهدين ؤ هغوي چي زه دځان سره روان كړم ماته پته نه وه چي ما كومي خواته بيايي خوهغوي له ماسره ډير انساني او دورور گلوي برخورد وكړ .

زه مطمين شوم چي هغوي ماته څه تاوان نه رسوي ، كله يي چي خپل مركز ته ورسولم ماته يي افغاني كالي ، بوټونه اوخولۍ راكړه ، تردي وروسته زه ديوه روسي پوځي په شان نه معلوميدم خو اوس هم يوه مسئله وه چي زه يي ډير انديښمن كړي وم هغه داچي زه دمجاهدينو ژبي سره ناآشنا وم او هغوي زما پرخبره نه پوهيدل بالاخره دامسئله يوه افغان ډريور حل

> مجاهدينو سره دزيات وخت تيرولو ماته يوه ډيره ښه گټه ورسوله هغه داچي زه دهغوي اخلاقو اوانساني برخورد څخه سخت متأثر شوم اودهغوي پاك مذهب غيري ته مي پناه ور وړه ، داسلامي فلسفي اواسلاميت كوم اصل چي زما په زړه كي ځاي ونيوه هغه اخلاقي قوت دي چي دهغه په سيوري كي مسلمانان دخپلو دښمنانو سره هم ښه اخلاقي برخورد كوي

كړه هغه په كابل كي ديوي روسي ترانسپورتي كمپني سره كاركاوه او پرروسي ژبه تريوه حده پوهيده ، هغه له ماسره ډيره مرسته وكړه ماته يي يوه راډيو هم پيداكړه چي په هغي به ماروسي خپروني اوريدلي ، مجاهدينوسره دزيات وخت تيرولوماته يوه ډيره ښه گټه ورسوله هغه داچي زه دهغوي اخلاقو اوانساني برخورد څخه سخت متأثر شوم اودهغوي پاك مذهب غيږي ته مي پناه ورووړه ، داسلامي فلسفي اواسلاميت كوم اصل چي زما په زړه كي ځاي ونيوه هغه اخلاقي قوت دي چي دهغه په سيوري كي مسلمانان دخپلو دښمنانو سره هم ښه اخلاقي برخورد كوي داسلامي فلسفي دااصل هم دحيراني وړدي چي دهغوي منونكي په دنيا كي له چاڅخه نه ويريږي هغوي دروس په شان ابر قدرت سره لاس اوگريوان دي خو په هيڅ ډول دهغوي څخه ځان كمزوري نه بولي .

گريگوري وكتر چي كله داسلام غيږي ته پناه راوړه دعبدالرحيم نامه يي پر ځان كيښوده دظالمانو ملگرتيا يي پريښوده اودمظلومانو سره دمرستي موقع په لاس ورغله دچادتپي كولو په خاطر چي دي افغانستان ته راغلي ؤ،دي اوس په هماغو ټپونو پټي ږدي .

عبدالرحيم اوس په پنجشير كي يوه روغتون كي كاركوي هغه ديو غټ عالم څخه قرانكريم لولي ، اوددينې كتابونو پرلوستلو بوخت دي اوچي روغتون ته راشي په يوي چوكي كيني

(٦)مخ كي

دکابل رژیم ددفاع وزارت مرستیال اودخوست فرقی قوماندان دخبریالانو پوښتنو ته ځواب ورکوي

دمطبوعاتی کنفرانس ددوهمی برخی په پیل کي لومړی دکابل رژیم ددفاع وزارت مرستیال « ډگر جنرال ظاهر سوله مل » چی دخوست له فتحی څخه څو ورځی مخکی دکابل څخه دیوه هیات په گډون دعملیاتو دتشدید اوڅیړنی لپاره خوست ته راغلی ؤ ، دخبرنگارانو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل ، دبی ، بی ، سی راډیو خبریالی « لیزدوسیت » له سوله مل څخه وپوښتل « مجاهدین وایی چی که تاسی له دوی سره خپل پیوستون اعلان کړی اوددی تضمین وړاندی کړای شی چی دخوشی کولو څخه وروسته بیا له نجیب سره نه یو ځای کیږی ، نودوی به تاسی خوشی کوی اوتاسی به نه محاکمه کیږی ! داخبره سمه ده اوکه نه ؟

بله داچی ایا تاسی دی ته اماده یاستی چی ددی تضمین ورکړی ، او دمجاهدینو سره خپل پیوستون اعلان کړی ؟اوکه لدی څخه ویریږی چی دتاسی دغه اعلان به تاسو ته تاوان ورسوی ؟ »

جنرال سوله مل په خورا هوښیاری ددی پوښتنی له مکمل ځواب څخه ځان وغړاوه اوپه اختصار سره یی وویل : « زه باید ووایم چی مجاهدین زموږ وروڼه دی اوموږ له خپلو وروڼو څخه اصلا ددی تشویش نلرو چی موږ وژنی !

زموږهیله داده چی موږ تل له مجاهدینو سره و اومجاهدین تل له موږسره وی ، افغانان ټول وروڼه دي ، او افغانان باید لاسونه سره یو کړی ، اودخپل وطن دجوړولو لپاره یو ځای قدم کیږدی ! »

بیا داسوشیتیدپریس اژانس خبریالی له ظاهر سوله مل څخه وپوښتل چی: دی ولی تراوسه ندی خوشی شوی ؟ "سوله مل ځواب ورکړ " تراوسه لادومره وخت ندی تیرشوی . »

دامریکا غږ راډیو دپښتو څانگی محلی خبریال له سوله مل څخه وپوښتل چی:« له جگړی مخی ولی دافکر درسره نه و چی مجاهدین زموږ وروڼه دي او ولی لدوی سره نه یو ځای کیدی ؟ »

سوله مل داسی ځواب ورکړ «موږ تل داخبره کړی ده ، مخکی مو هم ویلی ، اوس هم وایو اوپه اینده کی به هم وایو چی مجاهدین زموږ وروڼه دي اوموږ باید له دوی سره یو ځای و ، موږ باید یو ځای خپل کور او وطن جوړکړو ! »

یوه پاکستانی خبریال وپوښتل :« که تاسی خوشی کړای شی ، ایا تاسی به بیا دهغه رژیم سره یو ځای شی چی دمجاهدینوپرخلاف وجنگیږی ؟ »

سوله مل په ځواب کی وویل :" زه ددوی پرخلاف نه جنگیږم زه لدوی سره یو ځای یم ، دافغانانو داسلامی وطن دجوړولو په لارکی به تل ورسره یو ځای وم »

یوه بل خبریال تری وپوښتل :" ایا دخوست په جگړه کی قوماندی ستاپه لاس وه ؟"

«سوله مل وویل : هو زما په لاس وه !"

وروسته یوه افغانی خبریال تری وپوښتل : «تاسی دکابل څخه خوست ته دڅه لپاره راغلی وی دجگړی دتشدید لپاره اوکه تسلیمدو لپاره ؟ »

سوله مل په ځواب کی وویل :« زه خپله نه وم راغلی ، بلکه رالیږل شوی وم . »

دبی ، بی سی راډیو خبریالی پوښتنه وکړه :« ایا تامخکی هم له مجاهدینو سره کوم ، ارتباط درلود ؟ اوایا دخوست دتسلیمیدو په هکله تاله چاسره خبری کړی وی ؟ »

سوله مل په ځواب کی وویل : " نه ماله چاسره رابطه نه درلوده "

یوه پاکستانی خبریال له سوله مل څخه پوښتنه وکړه " داسی ویل کیږی چی تاسی دلته دمجاهدینو سره دروغی جوړی دلارو دلټولو لپاره راغلی وی ، خودلته دمجاهدینو له خوا بندی شوی ، اوایا تادمجاهدینو پر ضد په جگړه کی برخه درلوده ؟ »

سوله مل ځواب ورکړ : «جنگ په مجموع کی جنگ دی ، زه نه پوهیږم دجنگ تعریف څرنگه وکړم ، اما زه کله چی راغلی یم دلته یا دلته ونیول شوم اودلته دحقانی صاحب سره موجود یم ، داداسلامیت او وروړ گلوی څخه پرته بل څه ندي . »

ډگرجنرال ظاهر سوله مل دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی لدوی سره دمجاهدینو رویه ډیره عالی وبلله ، اوکابل رژیم او دروسانو هغه خبری یی رد کړی چی گواکی پاکستانی ملیشه اوپوځیان په خوست کی جنگیدلی دي .

دظاهر سوله مل څخه وروسته دخوست د۲۵می پلی فرقی قوماندان برید جنرال گل اقا هم دخبریالانو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل .

په عکس کی ډگرجنرال "سوله مل" بریدجنرال "گل آقا" او یوشمیر نور لوړ رتبه صاحب منصبان لیدل کیږي.

نوموړی دافغانستان غږ راډیو دخبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل:« ما دیوه کال څخه راپدی خوا په خوست کی دنده اجرا کوله ، اومخکی لدی څخه می په خوست ، گردیز اوکابل کی دنده اجرا کړی ، دوه ځلی خوست ته راغلی یم . »

نوموړی دیوه پاکستانی خبریال ددی پوښتنی په ځواب کی چی :« ته دنجیب رژیم ته یا دنجیب رژیم عسکری قواو ته څه پیغام لری ؟ » وویل :

«زما پیغام دادی چی مخکی موږ اودوی ته داسی تبلیغ شوی و چی مجاهدین دارډو سرسخت دښمنان دي خوموږ اوس په سترگو ولیده چی داسی نده ، دمختلفو تنظیمونو دمجاهدینو له خوا دعسکرو اوصاحب منصبانو سره سم برخورد کیږی او هغه څه چی نجیب وایی هغه حقیقت نلری» .دخوست په جگړه کی دمجاهدینو لخوا دکابل رژیم نیول شوی افسران ډگروال عبدالحلیم اوډگروال لعل محمدهم چی دخوست له فتحی یوه ورځ مخکی تازه دکابل څخه د (۱۰) تنو جنرالانو سره خوست ته رسیدلی ؤ وایی چی «اوس دخوست ټولی ستراتیژیکی لاری اومنطقی دمجاهدینو په کنترول کی دی اوپه هوایی ډگر باندی یی دالوتکو کښیناستل ممکن ندي ځکه هغه ددافع هوا توپونو ددزو له امله له استفادی نه وتلی» نوموړیو صاحب منصبانو زیاته کړی دمجاهدینو داتحاد اواتفاق په اثر به کمونستی قواوی هیڅکله داجرات ونشی کړای چی خوست بیا ونیسی ولی چی درژیم ټولی قواوی اوملیشه پدغه ځای کی ماتی خوړلی اودجگړی روحیه یی له منځه تللی ده .

دوی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل چی دډاکترنجیب مرستیال ډگرجنرال نظرمحمد ، دخوست دسوق اواداری مشر ډگرجنرال ظاهر سوله مل برید جنرال سید محمد علی دره نوری ، میرزا عالم حمیدی ، دجوزجانی ملیشه قوماندان برید جنرال احمد خان اودکمونست گوند دسیاسی بیرو غړی عبدالحمید دنورو ۲۲ تنو په شمول دخوست دفتحی څخه لږ مخکی هلته ولیدل شول هغوی ته دوه خاصی هلیکوپتری ولاړی وی ښایی چی دجگړی په وخت کابل ته تښتیدلی وی » دوی زیاته کړه« له فتحی څخه یوه ورځ مخکی د(۱۵۰) تنو په شاوخواکی دجگړی ټپیان او تقریبا (۱۵۰) تنوپه شا وخواکی دوژل شوو عسکرو اوصاحب منصبانو تابوتونه دخوست څخه کابل ته یوړل شول . »

ډگروال لعل محمد دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل :« چی په خوست کی درژیم دټولو قواو شمیر دقبایلی توری قوم دملیشه و اوجوزجانی ملیشی په شمول تقریبا لس زرو تنو ته رسیده چی دنجیب په اصطلاح دپلاروطنی جبهی له خوا یی دخوست سیمی ددفاع لپاره جگړه کوله . »

دخوست مشالي فتحه دجهاد په ...

یی دسراومال درانه تلفات ورواړول ، دغسی مجاهدین تیره اونۍ دکندوز په ولایلت کی ددشت ارچی ولسوالی فتحه کړه ، په سمنگانو ، فاریاب ، بادغیس او ... ولایتونو کی هم دمجاهدینو عملیات چټك شوی دی اوهره ورځ پردښمن باندی دمجاهدینو دفتحی اوبری زیری رارسیږی .

اوس مجاهدینو دتیتو پرکوعملیاتو په ځای پر دښمن متحد عملیات پیل کړی اولکه چی دخوست دبریالیو عملیاتو تجربو چی په یوی واحدی قوماندی اواداری سرته ورسیدل داوښودله چی په ډیر کم وخت او لږو امکاناتو سره لوی خدای (ج) دومره ستری فتحی اوبریالیتوبونه دمجاهدینو په برخه کړ ی چی هیچا یی په اسانی سره اټکل هم نشو کولی .

دخوست ستره فتحه چی اوس دټول هیواد دمجاهدینو اوجهاد دسنگرونو له پاره دعبرت درس گرځیدلی اودلاری مشال،د هیواد په ځینو برخو کی پر دښمن باندی متحد عملیات پیل شوی او چټك شوی اوددښمن په ځینو سترو پوځی مرکزونو خصوصا پرکابل اویو شمیر نورو ولایتونو باندی مجاهدین دسترو اومتحدو عملیاتو لپاره دچمتووالی په حال کی دی ، لوی خدای (ج) دی وکړی چی مجاهدین همداسی خپلو متحدو اویو مخیزو عملیاتو ته ادامه ورکړی . لری نه ده چی په ډیر کم وخت دروسانو مزدور رژیم رانسکور اوپرځای یی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس یو اسلامی حکومت جوړشی .

(ومن الله التوفیق)

ولسوالي دشت ارچي ...

رژیم را درعلاقه داری علی اباد ولسوالی چاردره ولایت کندز عقب زده اند .

ملیشه های گلم جم وافراد خارندوی رژیم مزدور درولایت کندز به منظور تلاشی بالای قریه «قوال» وپل خشتی علاقه داری علی اباد ولایت کندز روز ۱٦ حمل تعرض نمودند .

درجریان تعرض قوای رژیم مجاهدین اطلاع یافته برخورد شدید بین انها صورت گرفت که درنتیجه ملیشه هابه عقب زده شده دوعراده موتر نظامی انها حریق گردیده خسارات زیاد بر انها وارد شده است .

دکابل کمونست رژیم داسعداباد ښار د ...

په وجه یوسلو پنځوسو په شاوخوا کي دوکانونه اوزیات شمیر کورونه وران شویدي تراوسه پوري اوه سوه

پنځوس تنه ټپیان له کنړوالو څخه راویستل شوي چي یو شمیر یي دپیښور اوځیني نوریي دباجوړ په روغتونونو کي بستر شویدي ، ویل کیږي چي دمړو اوزخمیانو شمیر له دي نه ډیر زیات دي له کنړوالو څخه دمړو او زخمیانو دراویستو لړۍ روانه ده .

دریم سکلړ په یوه کرونده کي لگیدلي چي کوم ځاني تاوان یي ندي اړولي زخمیانو ژورنالستانو ته ویلي چي داسعد اباد دښار فضا تورلوگي نیولي دي .

دیادولو وړده چي دکنړولایت د۱۹۸۸ کال راهیسي ازاد او دمجاهدینو په لاس کی دی .

دخوست دجګړې نه دجهاد هنداري دليږل شووخبريالانو راپور تاڼ

رابور تران محمد یعقوب او ر ، ملاخیل — عکاسي احمدسینا احمدي

څلورمه برخه :

له حاجی صاحب څخه مو پوښتنه وکړه چی دخوست په محدودو سیمو کی دمحاصره شوی ملیشه ؤ او پوځیانو ددومره شدید مقاومت علت ستاسی په نظر څه دی ؟ ولی نه غواړی لکه دخوست دشاوخوانور پوځیان خانونه مجاهدینو ته تسلیم کړی په ځواب کی ده داسی وویل : «زه ګومان کوم چی ددوی څخه یوزیات شمیر دمجاهدینو دعفوی داعلان په هکله مطمین ندی ، ځکه دوی دولس کاله دمجاهدینو پر خلاف جنګیدلی دي ، ډیرمجاهدین یی شهیدان کړی او اوس ویریږی چی مجاهدین به دخپلو شهیدانو کسات تری واخلی ، بلکه خبره داده چی خوست ته یوزیات شمیر پوځیان او ملیشه نوی راغلی او په خوست کی دمجاهدینو او حکومت له استراتیژی څخه په پوره توګه ندی خبر، کوم کسان چی پوهیدل هغوی یاتسلیم شول یا وتښتیدل ، او نوی افراد دمجاهدینو له پر مختګ څخه په پوره توګه ندی خبرپداسی حال کال کی چی اوس دوی دښار په مینځ کی ټانګ او موټر ته حرکت نشی ورکولای ، او خپل اکمالات دپراشوټ په واسطه کو ی چی هغه هم اکثراً په خپل ځای نه پریوزی او پراشوټ کله کله دمجاهدینو ترلاس لاندی سیموکی ښکته کیږی ، ددښمن دغه نوی افراد شاید داګومان کوی چی مجاهدینو اودرژیم دعسکرو فعلی موقعیتونه ډیری پخوانی دی او نوی پرمختګ ندی شوی ». مونږ له حاجی صاحب څخه وپوښتل چی ددښمن له خوا دفرش شویو ماینونودپاکولو په برخه کی ، د تسلیم شوی افراد نشی کولای له مجاهدینو سره مرسته وکړی؟

نوموړی په ځواب کی وویل: "دغه کسان چی مونږ ته تسلیم شوی پدی هکله څه خاصه مرسته نشی کولای ، ځکه دغه ماینونه ددوی له خواندی ایښودل شوی ددی ماینونو ښخول ، زیاتره دخاد او ملیشی دنده وه ، او پدی خاطر فرش شوی دی ، ترڅو له یوی خوا دپه زوراحضارشویو عسکر و له تیښتی څخه مخه ونیسی اوبل لوری ته دمجاهدینو دپرمختګ په لاره کی خنډ واقع شی ».

بیامونږ له حقانی صاحب څخه وپوښتل چی دجګړې له پیل څخه تراوسه مجاهدینو ددښمن څومره پوستی فتح کړی ؟

چی هغه په ځواب کی داسی وویل: "ددښمن دپوستوشمیرل زماپه نظر ګران دي ځکه په هره پوله اوهر کونج کی ددوی یوه پوسته ځای پرځای شوی ، څه وړه څه غټه بیاهم ددوی مجموعی شمیرنی له مخی څه دپاسه (۱۵۰) پوستی ددښمن له پوستو څخه فتح شوی دي ».

له حاجی صاحب څخه موپوښتل چی دکابل دمزدور رژیم او دروسانو ددغه ادعاګانو په هکله چی ګواکی په خوست کی پاکستانی پوځ دوی سره په جګړه بوخت دی ، څه نظر لری؟

حقانی صاحب په ځواب کی وویل :" مونږ مخکی هم څوځله مطالبه کړی چی حاضر یو دیوه باصلاحیته بین المللی هیأت ته دعوت ورکړو ، ترڅو راشی او ټولی سیمی چی زمونږ دمجاهدینو په لاس کی دی وګوری ، حتی دی ته هم حاضر یو چی ددی هیأت په حضور کی دی دنجیب دررژیم نمایندګان هم راشی ترڅو داثابته شی چی داپاکستانی پوځونه دی چی دنجیب له قواو سره جګړه کی بوخت دی اوکه زمونږ سپیره مجاهدین، مونږ حاضر یو په هره طریقه چی دوی پری قناعت کوی داثابته کړو چی مونږ سره پاکستان حکومت هیڅ فرد نه جنګیږی اونه کله جنګیدلی ! ».

دحقانی صاحب سره زموږ دخبرواترو دپای ته رسیدو سره جوخت دخوست دجګو اودنګو غرونو په منځ کی دحق دلاری دسپاهیانو په سنګرونو کی دماښام دبانګ انګازی خپری شوی ، روژه ماتی مو دجهاد په سنګر کی له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره وکړ ، اودسبا ورځی لپاره مودمجاهدینو په لاس دفتحه شویو سیمو دلیدلو کتلو پروګرام جوړکړ ، اودحقانی صاحب سره دهغی په هکله دسلاح مشوری وروسته ، خپل دهستوګنی اطاق ته چی دزرهدارو دغنډ په مرکز کی واقع ؤ راستانه شوو، اوسبا ته دزرهدارو دغنډ په یوه موټر کی دبېری څخه دفارم باغ لوری ته چی دخوست ښار څخه یو کیلو متر فاصله لری ، روان شوو .

دغرمی نه مخکی دلس نیمو بجو په شاوخوا کی زموږدسورلی موتر ددنګو غرونو په منځ کی له «بېری » څخه دفارم باغ په لوری حرکت وکړ ، په اسمان کی دپسرلی زېړ لمر، اولاندی دغرونو اولارو په منځ کی څخه دجبهی په لومړیو لیکو کی دخپلو مجاهدینو لپاره دمهماتو ، اسلحی اوخوراکی اوارتزاقی موادواکمالات کوی .

لږوړاندی بیا دمړوندی دبهانده خوړونو اوبو ، ډیره ښکلی منظره جوړوله ، دلاری په اوږدو کی ځای ځای د دنګو غرونو په څوکو کی دمجاهدینو سنګرونه ښکاریدل ، دخوست څخه په دوه یا دونیم کیلو مترفاصله کی ددښمن دچنار اومصلی نومی پوستی چی اوس دمجاهدینو په لاس فتحه شوی وی ، دلاری په سر ورانی پرتی وی ، ددی ځای دپوستو یو زیات شمیر عسکراوملیشه دمجاهدینو په لاس ورغلی خودهغوی مهمو افرادو په شاتګ کړی دی اودخوست ښارته په تیښته بریالی شوی ، دمصلی له پوستو څخه دتیریدو سره دخوست له ښار څخه دراوتلیو کډوالو یوه وړوکی قافله هم مخی ته راغله ، دمزدور رژیم دسکډ توغندیو اوناپالم بمونو په وسیله جوړی شوی کندی اودتګ راتګ دلارو په شاوخواکی خښ کړای شوی ماینونه لکه دافغانستان په نورو سیمو کی دلته هم ، دروسی مزدورانو دسوغات!!په توګه کتلای شو ، دمصلی له پوستو څخه ترلږتیریدو وروسته دګوګری پوستی اودهغی عمومی قرارګاه مخی ته راغله چی اوس پکی دشهید سلیمان شاه دزرهدارو غنډ دمجاهدینو اکمالاتی پوستی ځای پرځای شوی دی ، اوله دی ځای کلامدرسه مخی ته راغله چی دمزدور رژیم دملیشه قواو له هغی څخه پوسته جوړه کړې وه او اوس دزړورو مجاهدینو په لاس فتح شوی ده .

له بېری څخه ترفارم باغ پوری دلاری په اوږدو کی ځای ځای دمجاهدینو دابی ،ام ، ۱۲) دستګاه ډزی اوریدل کیدی چی دروسی مزدورانو سنګرونه یی دخوست په بازار اونوی هوایی ډګرکی تربرید لاندی نیولی و ، همداراز دمزدوررژیم له خوا زوړ هوایی ډګر چی اوس پکی دمجاهدینو پوستی ځای پرځای شوی ددرنو وسلو تربرید لاندی نیول شوي ؤ.

دمسکو - کابل ګډی ...

پاکستان تورولګاوه چی دهغوی نظامی مشاورین ددوی په اصطلاح دافغانی اپوزیسیون !! له ډلو سره کوم چی پرخوست باندی برید کړی یو ځای دی ، اوداپوزیسیون ډلو دهغوی په هدایت داحمله ترسره کړی !

دکابل رژیم اودهغوی بادارانو دغه پخوانی عادت چی دمجاهدینو له هربریالی برید څخه وروسته باید دپاکستان پرحکومت دمداخلی تورولګوی ، دهغوی له تیت مورال اوماتی خوړلی روحیی څخه پرده پورته کوی !

دمجاهدینو په لاس دخوست ښاردفتحه کیدو وروسته مزدورنجیب په خپله یوه راډیویی وینا کی وروسته له هغی چی په خوست کی په خپله رسواماتی باندی اعتراف کوی ، یو ځل بیا خپلی پخوانی اوتی بوتی تکرار وی اوداشکایت لری چی پاکستانی پوځونه دلری ویشتونکو توغندیو په وسیله دخوست دبی دفاع اوبی وزلیو اوسیدونکو په وژنه لاس پوری کوی !!!

همداراز دحمل په ۱۲ مه دخوست دفتحی په دوهمه ورځ دکابل رژیم دبهرنیو چارو وزیر یو ځل بیا خپل له اعتراض نه ډک !! لیکونه دملګرو ملتودسازمان عمومی منشی ته رسولی ، اوله هغه څخه یې غوښتنه وکړه ، ترڅو دی له خپل صلاحیت څخه په استفادی سره په دی هکله جدی مداخله وکړی ، ځکه پاکستانی پوځونه پرخوست باندی خپل یرغل !! ته ادامه ورکوی اودبی ګناه خلکو دوژنی سبب ګرځی !

دکابل مزدور رژیم دغه ادعا ګانی پداسی حال کی تکراریږی چی په خوست کی دمجاهدینو دبرید څخه څو ورځی وروسته په هغی ځای کی دمزدوررژیم سره په جګړه لګیا مجاهدینو اعلان وکړ چی دوی حاضر

(۷)مخ کی

مجاهدین غواړي خوست بیرته ...

پلونه ، شفاخانی مکتبونه اومدرسی بیرته جوړی شی ، ښوونه اوروزنه دوباره پیل شی ، نو موږ دملگرو ملتو له سازمان ،نړیوالو خیریه موسساتو ، اسلامی هیوادونو اونورو دوستو هیوادونو څخه هیله لرو چی پدی هکله زموږسره مرستی اوهمکاری وکړی »

دحقانی صاحب ترمفصلی وینا وروسته په کنفرانس کی گډون کوونکو خبریالانو ته وخت ورکړل شو ، ترڅو خپلی پوښتنی مطرح کړی

په لومړی سرکی دپاکستان دتلویزیون خبریال له حقانی صاحب څخه پوښتنه وکړه ، چی دخوست له فتحی وروسته ستاسی نوی جنگی ستراتیژی څه ده ؟

حقانی صاحب ځواب ورکړ « موږدخوست دفتحی وروسته خپل قوتونه منظمو اودمزدور رژیم په نورو مرکزونو لکه گردیز ، غزنی ، لوگر اوحتی کابل باندی به خپل عملیات پیل کوو »

همدارنگه په پاکستان کی دبی ، بی ،سی راډیو استازي « لیزدوسیټ » له حقانی صاحب څخه پوښتنه وکړه چی :

۱- کوم جنرالان اونظامی افسران چی تاسی په خوست کی نیولی ایا دوی به خوشی کوی که نه !

۲- داسی اوازه خپره وه چی یو شمیر نظامی افسرانو دجگړی له میدان څخه تیښته کړی وه ،اوبیرته دکابل حکومت ته رسیدلی ، پدی هکله تاسی څه وایی ؟

حقانی صاحب ددی پوښتنو په ځواب کی وویل :

« داچی موږله جنرالانو سره څه کوو ، په نړی کی دجنگی بندیانو اصول معلوم دی اودااصول زموږپه مخی کی پراته دی که څه هم موږددوی سره دجنگی بندیانو په څیر رویه هم نده کړی ، دوی صرف ترهغه وخته زموږ ترمراقبت لاندی دی چی ددوی همکاری دنجیب سره قطع شی ،اودوی دی ته اماده شی چی ظاهرا اوباطنا دنجیب سره همکاری ختمه شی .

دوهمه خبره داده چی یو شمیر جنرالان تښتیدلی دی ، یا پټ شوی دی ، دادواړه احتمال لری ، ماوویل چی ۲۵ جنرالان ؤ اوټول موږته په لاس ندی راغلی ځینو کسانو زموږ لدی اعلان څخه چی مجاهدینو ته مو ویلی ؤ چی له کلوسره چی کوم کسان دی ، په هغو باندی باید کارونلری ، غلطه استفاده کړی اودکلوپه منځ کی وتلی دی اوموږتراوسه دغه کوروونه ندی تلاشی کړی نه کوی ، ترهغی پوری به دوی زموږ په مراقبت کی وی ، اوکله چی موږ متیقن شوو ، چی که موږ دوی خوشی کړو ،او بیا دنجیب رژیم سره نه یو ځای کیږی ، او زموږ پرخلاف په جنگونو کی برخه نه اخلی نودوی ازاد دی ، نوردوی په خپلو تیرواعمالو نه محاکمه گیږی ، اویوازی ترهغه وخته پوری به بندیان وی چی دنجیب له رژیم سره ددوی همکاری ، زموږ لټون روان دی له دوی څخه ځینو کسانو ځان تسلیم کړی ، ځکه موږ بیا ورته اعلان وکړ چی ځانونه خپله ښکاره کړی اوتسلیم شی که نه نو بیابه له جزا سره مخامخ شی موږته پرون دوه پیلوټان اویو دملیشی قوماندان په لاس راغلی اوکیدای شی لدوی څخه ځینی کسان تللی وی ، ځکه هغوی پیسی ډیری درلودی زه ددوی په تگ خفه نه یم ځکه دوی به هلته دخوست دفتحی جریان په پوره توگه نجیب ته بیان کړی هغه څوک مو چی نیولی هغه به دلته تاسی ته معلومات درکړی ، اوهغه چی تللی هغه به هلته نجیب ته معلومات ورکړی »

همدارنگه دبی ، بی ، سی د راډیو خبریالی وپوښتل چی دخوست په جگړه کی دکابل رژیم دقواو عمومی قوماندان تاسی ته په لاس راغلی اوکه نه !

حقانی صاحب ددی پوښتنی په ځواب کی وویل :

دخوست دقول اردو قوماندان محمد علی ؤ ، چی موږته په لاس ندی راغلی مخکی دخوست دجبهی قوماندان چی دټولو قواو رهبر ی یی په غاړه درلوده غلام فاروق ؤ ، هغه هم دفتحی څخه دری ورځی مخکی دظاهر سوله مل له خوا خوست ته احتیاطا راوستل شوی ؤ ، هغه هم موږته په لاس ندی راغلی ، دقطعاتو رهبری اوس دظاهرسوله مل چی ددفاع وزارت مرستیال ؤ ، دهغه په لاس کی ؤ ، که څه هم دلته نظر محمد دنجیب مرستیال هم ؤ ، نظرمحمد هم تراوسه په لاس ندی راغلی »

یوه پاکستانی خبریال وپوښتل چی وروسته لدی چی تاسی دوه هوایی ډگرونه ونیول اویو زیات شمیر الوتکی په لاس درغلی ، تاسی کولای شی چی خپلی هوایی قواوی ولری ؟ اوبل داچی ستاسی تلفات اوددښمن تلفات څومره ؤ، همدارنگه دهغوی دبندیانو شمیر څومره دی چی اوس ستاسی په لاس کی دی ؟

(۷) مخ کی

زموږ مجاهدین اوقوماندانان غواړي ترڅوخوست بیرته اباد شي ، پلونه ، شفاخاني ، مکتبونه اومدرسي بیرته جوړي شي ، ښوونه او روزنه دوباره پیل شي ، نو موږ دملگرو دسازمان نړیوالو خیریه موسساتو ، اسلامي هیوادونو او نورو دوستو هیوادونو څخه هیله لرو چي پدي هکله زموږ سره مرستي او همکاري وکړي

موږ په افغانستان کي څه ولیدل ؟ ...

دناروغانو نسخی گوری اودوا ورکوی عبدالرحیم په دی خاطر چی زیات وخت یی دالوتکو ضد وسلو چلولو دنده سرته رسولی په افغانستان کی دروسی پوځیانو له کړو وړو او مجموعی ستراتیژی څخه زیات معلومات نلری خو هغه وایی چی روسانو دافغانستان پرخلکو په بیلا بیلو ځایونو کی زهری گاز استعمال کړی په پنجشیر کی دکیمیاوی وسلو اوگاز استعمالولو باندی دروسانو دولتی ورځپاڼی پرادوا هم د۱۹۸۳ کال دجون په ۱۱ مه اعتراف کړی.عبدالرحیم په خپلو سترگو داسی ناروغان لیدلی چی زهری گاز پری استعمال شوی اوپه هغوی کی ځنی بیا داسی هم ؤ چی داوریدلو اولیدلو محروم شوی ؤ .

عبدالرحیم دری کاله کیږی چی له مجاهدینو سره یو ځای دی کله چی دهغه څخه وپوښتل شول ایا روسیی ته بیرته تگ غواړی هغه په روښانه توگه وویل :

« زه روسیی ته تلل نه غواړم هغه دغلامانو هیواددی ، هلته دیوه ښار څخه بل ښار ته داجازه نامی اوویزی اخیستل ضروری دی زه دازادی دلاری له جنگیدونکو مجاهدینو سره ډیر خوشحاله یم که مجاهدین دافغانستان په ازادولو کی بریالی شی زه به دتل لپاره ازاد افغانستان کی واوسیږم ، مااوس داسلام غیرته پناه وروړی اوپه غیر اسلامی هیواد کی ژوند تیرول ماته دمنلو وړنه دی .

داپوښتنه له ده څخه یوه غربی ژورنالیست په پنجشیر کی کړی . نوربیا

پیوست به گذشته

عنعنه محکومیت رهبران کمونستي بعد ازمرگ شان

شاه ولي « ذاهب »

داخلی برسریکدیگر می کوبیدند دچارتفرقه وفرکسیون سازی بودند تایکدیگر راازپادراورند ودربرابر همدیگر صف ارایی میکردند تااندازه ایکه نورمحمد تره کی ازسفر هاوانا بازگشت نمود ودرماسکو فرود امد طبق مشوره بادارانش موقع عودت به کشورمیخواست حفیظ الله امین رانابود سازد پلان مذکور را حفیظ الله امین صدراعظم رژیم کشف ویکدیگر راهدف تیراندازی قراردادند دونفر ازمحافظین حفیظ الله امین کشته شد وخود امین ازین واقعه جان به سلامت برد .

تره کی که مدت یکنیم سال بنام کاذب استاد بزرگ ،نابغه شرق وغیره درجنون خود خواهی غرق شده وهمچنان حفیظ الله باکسب لقب شاگرد وفادار کسب اعتماد نموده بود درماه سنبله به استاد نابغه اش مرگ رامنحیث پاداش تحفه داد امین درجواب سوال خبرنگاران بتاریخ ۲۸ سنبله ۱۳۵۸ صرف همینقدر گفت : « تره کی دراثر مریضی که داشت درگذشت » تره کی این بدنام ترین شخص دوره سیاه کودتای کمونستی درقول ابچکان دفن گردید مردم قبرناپاک وی راچندی بعد به اتش کشیدند وانتقام شهدای گلگون قبا وارمان بدل کشور ازان گرفته شد .

بعد ازلشکرکشی سیل اسای قوای تادندان مسلح روس به افغانستان کودتای دیگربرضد حفیظ الله امین بوقوع پیوست واورا درقصر تپه تاج بیگ بقتل رساندند وطرفدارانش رایا کشتند ویا هم بزندان افگندند وفامیل قوماندان انقلاب !! آنیز روانه زندان پلچرخی گردید وبه اصطلاح باقوماندان انقلاب ثور چنین پیش امد حزبی وانقلابی صورت گرفت واورابنام قاتل ، جلاد ، ایجنت امریکا وشخصیکه بامجاهدین حکومت مختلط وائتلافی می ساخت وانقلاب نام نهاد ثور را ازراهش منحرف می نمود یاد کردند همچنان بعد ازنصب شدن نجیب مزدور درسال ۱۳٦۵ کارمل نیز به القاب متذکره مفتخر گشت ونتیجه مزدوریش رادید .

بعضی ازایجنت های کی ، جی ،بی وخاد درلباس مجاهد خود را جازده درلباس مجاهد درخدمت الحاد قرار داشتند ومدتی وظایف محوله شان رابه نفع باداران شان دنبال میکردند بعداً صف مجاهد راترك وبه هم کشیان خود پیوستند مانند عصمت مسلم که درسال ۱۳٦۵ مستقیما به رژیم پیوست عده ای راباخود نیز همراه برد وصف مجاهدین راترك گفت عملا برضد جهاد ومجاهدین وملت مسلما دست به جنایت زد هرانچه اقا فرمود این غلام مست درنیشه شراب وفساد بجا نمود واعتماد کامل روسها را کسب کرد تااندازه ایکه روسها تصمیم گرفت اورا عوض نجیب نصب کنند اینکه پلان های طرح بمقابله زیر کانه نجیب خادیست مواجه گشت این عمل روسها نافرجام ماند وبدستور روس این مهره کثیف رتبه جنرالی رانیز کسب نمود .

اخیرا این شخص جفاکار ووطنفروش بطور مرموزی هدف تیر رقیبش نجیب مزدور قرارگرفته وازبین برده شد•وگروپ قاتل وجنایت پیشه ان بی سرپرست ماند بعد ازقتل عصمت مسلم نجیب به انتقام جویی ازرقیب سیاسی وباند اورشید دوستم یکتن ازملیشه های جانی دیگر راقومانده داده تاگروپ وی راازبین برده وگلیم طرفداران عصمت مسلم راجمع نماید .

چنانچه دراثر برخورد شدید یکه بین ملیشه های عصمت مسلم ورشید دوستم درمنطقه سرپوزه کندهار صورت گرفته ۳۰ تن ازملیشه های رشید دوستم کشته و۵۰ تن دیگران زخمی گردیده یکتن ازسرگروپ های عصمت مسلم که مسوولیت حفاظت ازدوپوسته رژیم رادران منطقه داشت به سرکردگی رستم باسی نفر افرادش به مجاهدین پیروزمند تسلیم شدند وچاره دوام رادررژیم حصر دیدند .

اینست مفهوم رفاقت حزبی وپاداش تلاش های مذبوحانه کمونستان که بعد ازمرگ به ایشان میرسد وافرادی بیخرد باوجود تجربه ۷۳ ساله قدرتمندی کمونیزم درروس وچند ساله درافغانستان هنوزهم ازین مکتب جنایت بارطرفداری نموده سنگ دوستی وتعهد بااین مکتب رابه سینه می کوبند درصفوف ناپاك والحادی مردمان بیدفاع ومظلوم رابرای براوردن اهداف کمونیزم زیر شکنجه وازار خویش قرارمیدهند ،چونکه راه واهداف شان غلط بوده واساس این مکتب بر مبنای ظلم وستم گذاشته شده نتیجه کارشان جززیان ونقصان بهره دیگر ندارد بنا به این نتیجه میرسیم یگانه راه نجات ورستگاری بشر دراسلام این دین مبین الهی نهفته است که ضامن مرگ وزندگی پر افتخار وسربلند مسلمین بوده اگر ازطرف کفار کشته شود درجه عالی شهادت نصیبش میشود واگر کفار را بکشد وظالمان وقاتلان رابجزای اعمالشان برساند غازی میگردد درهردوصورت به شرط مسلمان بودن وعمل نمودن به ارشادات خداوندی وسنن نبوی (ص) قرین رحمت پرودگار بوده خیر ورستگاری نصیب شان میگردد ، چنانچه اوتعالی درکلام ربانی خود میفرماید که خداوند پاداش نیکو کاران راضایع نمیسازد .

مجاهدین غواړي خوست بیرته اباد کړي پلونه ...

حقانی صاحب ددی خبریال دپوښتنو ځواب داسی ورکړ: له هوایی میدان اوهوایی قواو څخه ممکنه ده په خپل وخت سره استفاده وشی ، خو ددی لپاره هم ضرور ده چی لکه څرنګه چی مامخکی وویل یو شمیر هیوادونه اوبین المللی خیریه مؤسسات زموږسره مرسته وکړی ، هغه مؤسسات اوهیوادونه چی دخوست دبیا ودانولو سره دلچسپی وښیی په هغی کی داهرڅه شامیلیدای شی مکتبونه ،سرکونه،شفاخانی،هوایی میدان اوداسی نور،نولدی څخه به په خپله موقع انشاالله استفاده وشی دمجاهدینو له خوا تقریبا د(۱٦۰) کسو په شااوخوا کی په شهادت رسیدلی دزخمیانو شمیر ډیر زیات ؤ ، تقریبا ددری سوه کسانو په شااوخواکی زموږمجاهدین زخمیان شوی ، ددوی تلفات موږته پوره ندی معلوم شوی ، دخوست په شفاخانه کی ۸۰ کسان مجاهدینو وشمیرل چی هلته تابوت کړای شوی ؤ ، خودطیارو دنشتوالی له امله یی نه ؤ انتقال کړی ، په نورو پوستو کی ددوی مړی زیات ؤ ، چی دقیق شمیر یی ندی معلوم شوی ، موږمجاهدینو ته امروکړ ترڅو هغه ټول په خپلو خپلو ځایونو کی ښخ کړی موږدنړیوال سره صلیب کمیتی څخه هم غوښتنه وکړه چی که دوی کولای شی دالوتکی په وسیله هغه کابل ته انتقال کړی موږحاضر یو چی دهغوی ټول مړی ټول کړو ، په تابوتونو کی یی ځای پرځای کړو اوهوایی میدان ته یی ورته راوړو ، خو دغه کمیتی هم معذرت وغوښت ، بیا نوموږ مجبورشو چی هغه مړی ښخ کړو نوپدی اساس دهغوی دمړیو دقیق شمیر معلوم نشو ، دکابل رژیم دبندیانو شمیرله موږ سره تقریبا د۲۰۰۰ څخه تر ۲۵۰۰ پوری دي ، ددوی په هغه ملیشه و باندی چی له کلووالو سره راووتل چا غرض ندی کړی ، که کوم یو یی په جنګ کی نیول شوی هغه هم بیرته خوشی شوی دی ،اودغه ملیشه په خوست کی دررژیم نیم قوت ؤ ، نورددوی ټول بندیان تراوسه راټول شوی ندی ،اودمجاهدینو په هرمرکز کی دهغوی یو شمیر بندیان شته ، خوبیا هم دیوی سطحی شمیرنی له مخی تقریبا ۲۵۰۰ کسانو ته دهغوی شمیر رسیږی . »

یوه غربی خبریال له حقانی صاحب څخه پوښتنه وکړه !

پداسی حال کی چی ستاسی راتلونکی عملیات ستاسو سره دمرستو په کمیت اوکیفیت پوری اړه لری ، ایا تاسی داسلام اباد له خوا وړاندی شوی دسولی له نوی وړاندیز سره موافقه لری ؟

دوهم : کیدای شی ووایو چی دخوست ښارنیول دنورو ښارونو دنیولو مقدمه ده ؟

دریم : ایا دررژیم دغه بندیان چی له تاسی سره دی دابه محاکمه کوی ؟

ددی پوښتنو په جواب کی حقانی صاحب وویل :

« دمرستو په هکله باید ووایو چی زموږ عملیات په خوست کی دنورو په مرستی پوری نه ؤ تړلی ، اواوس خو موږ له خوست څخه دومره اسلحی اووسایل ترلاسه کړی چی کولای شو ، دومره جګړه لکه په خوست کی یا ترهغی هم زیاته پری پرمخ بوزو، دبهرنیو خلکو په مرستو پوری زموږ جګړه اړه نلری ، انشاالله پرته لدی څخه چی فکر وکړو ، چی څوك مرسته کوی یانه ، زموږ جهاد به پرمخ روان وی ، داسلام اباد اودنورو هیوادونو دسولی وړاندیز ونه ډیر زیات دی اوزه ګومان نه کوم چی دغه دسولی وړاندیزونه به زموږ په خیرتمام شی ، او موږ دهغی نتایجو ته انتظار نه یو ،که موږ دخوست لپاره دسولی پروګرام ته انتظار ایستلی ، نوخوست به تراوسه دنجیب په لاس کی ؤ ، خوموږ دخدای په فضل وکولای شول چی خوست ازاد کړو ، هغه سوله چی دجنګ په نتیجه کی منځ ته راشی هغه ډیره ریښتینی اومؤثره وی ، نومجاهدین داسلام اباد لدی وړاندیز سره موافق ندی بله خبره داده چی بندیان موږ په زړو اعمالو باندی نه محاکمه کوو ، او یوازی دوی به ترهغه وخته ترمراقبت لاندی وی چی موږ مطمئن شو چی له نجیب سره دوی مرسته نکوی »

یوه پاکستانی ژورنالیست پوښتنه وکړه چی دغنیمتونو دویش په هکله تاسی کومی قاطع فیصلی ته رسیدلی یاست ؟

په ځواب کی حقانی صاحب وویل :

« دغنیمت دویش په هکله شورامخکی هم فیصله کړی وه چی دفتحی څخه وروسته شورا بیا هماغه فیصله تائید کړه ، فیصله داسی وه چی درنده وسله به راټوله کړو ، کومه چی ترمیم ته ضرورت لری هغه به ترمیم کړو ، نوره به ایښی وی اوپه مشترك ډول به تری استفاده کوو ، اوسپکی وسلی ته موږ یو معیاراومقدار تعین کړی چی په هغی معیارباندی به ویشل کیږی ، دفتحی څخه وروسته شورابیاهم هماغه فیصله تائید کړه اوپدی ډول موږ الحمد لله دغنیمت دویش په هکله تفاهم ته رسیدلی یو . »

د« اسوشیتیدپریس » بین المللی خبری اژانس خبریالی « کتی ایون » پوښتنه وکړه چی : « ستاسو اودحکمتیار صاحب دمجاهدینو ترمنځ څه مخالفت راپیداشوی ؤ ایا هغه مخالفت اوس هم دوام لری که نه ؟ اوحکمتیار ګروپونو چی کومه وسله غنیمت نیولی هغه به له ځان سره ساتی اوکه به هغه وویشی؟ اوبله داچی دخوست له فتحی وروسته ددی امکان شته چی مؤقت حکومت له پیښور څخه خوست ته راشی ؟ »

حقانی صاحب ددی پوښتنو ځواب داسی ورکړ:

«زموږ اوحکمتیار صاحب ترمنځ دمخالفت خبره ،یوه افواه وه چی دځینو کسانو له خوا پورته شوی وه ، اوهیڅ حقیقت نلری حکمتیارصاحب دخوست له فتحی وروسته ، دخوست دلیدلو کتلو لپاره دلته راغلی ؤ ، چی له ماسره یی ولیدل اوددی خبرویی ډاډ راکړ چی کومه فیصله تاسی سره شوی هغه به دده ملګری اومجاهدین منی ،اوهغه به تطبیق کیږی ، نورله حکمتیارصاحب یادهغه دقوماندانانو سره زموږ کوم مخالفت نشته اوبل دمؤقت حکومت انتقالول خوست ته دازما په نظر ډیره ضعیفه نظریه ده ، که مؤقت حکومت موږ دافغانستان په یوه خاصه منطقه کی ځای پرځای کولای نودخوست په شان ډیرنور ځایونه لدی څخه مخکی ازاد شوی ؤ لکه دکنړولایت ، دپکتیکا ولایت چی ډیر مخکی ازاد ؤ اوددومره تاخیر ضرورت نه لیدل کیده ، که موږپه خوست کی مؤقت حکومت ځای پرځای کوو دابه دا معنی ولری چی دادخوست حکومت دی اودنجیب حکومت دکابل حکومت ، حکومت که داخل ته انتقال کیدلو نودابه ټولو ازادو منطقو کی ځای پرځای کیږی ،نه په یوه خاصه اومشخصه منطقه کی »

دمطبوعاتی کنفرانس په پای کی یوه پاکستانی خبرنګارپوښتنه وکړه چی ایا دخوست له فتحی وروسته تاسی دپاکستان له حکومت څخه غوښتنه نه کوی چی مؤقت حکومت په رسمیت وپیژنی؟

حقانی صاحب په ځواب کی وویل « دمؤقت حکومت دپه رسمیت پیژندلو موضوع داحزابو په مشرانو پوری اړه لری ، دازموږ دقوماندانانو وظیفه نده ، تاسی کولای شی دغه پوښتنه دسیاسی احزابو له مشرانوڅخه وکړی چی دوی غواړی اوکه نه ! »

دغه مطبوعاتی کنفرانس دوی برخی درلودلی ، په لومړی برخه کی الحاج حقانی خبریالانوته دخوست دفتحی په هکله معلومات ورکړل اودهغوی پوښتنو ته یی ځوابونه ورکړل ، اوپه دوهمه برخه کی خبریالان اوژورنالستان دمنبع العلوم مدرسی بلی برخی ته راوستل شول ، ترڅو دوی هلته دمزدور رژیم له هغه نظامی افسرانو سره وګوری اوله هغوی څخه پوښتنی وکړی !

دمطبوعاتی کنفرانس لومړی برخه دغرمی نه وروسته ددوویجو په شااوخوا کی پای ته ورسیده ،اوخبریالان اوژورنالستان دنظامی اسیرانو سره دخبرو اومرکو لپاره دمنبع العلوم مدرسی بلی برخی ته لاړل .

بريد جنرال ګل اقا دنجيب رژيم عسکري قواو ته په خپل پيغام کي وويل : مخکي موږ اوتاسي ته داسي تبليغ شوي ؤ چي مجاهدين داردو سرسخته دښمنان دي ، خو اوس موږ په خپلوسترګو وليده چي داسي نده دلته دمجاهدينو له خوا دعسکرو اوافسرانو سره سم برخورد کيږي ، اوهغه څه چي نجيب وايي هغه حقيقت نلري

دخوست فتحه

دمسکو - کابل ګډی ...

دی دیوه بین المللی هیات په حضور کی حتی دمزدور رژیم نماینده ګانو ته هم اجازه ورکړی ، ترڅو راشی اودمجاهدینو په لاس فتحه شوی سیمی اودهغوی سنګرونه له نژدی څخه وګوری !

اوددی خبری ثبوت وړاندی کړی چی پاکستانی پوځ دخوست په کومه برخه کی ددوی له قواو سره جنګیږی؟

دمجاهدو قوتونو دغه غاښ ماتونکی چلنج په ډاګه ثابتوی چی نجیب اودهغه روسی باداران دیو لړ بی مفهومه اوله حقیقت څخه لری ادعاګانو په وسیله غواړی ، دمجاهدینو پرضدپه نړی والو اذهانو کی څه شکوك اوشبهات راپیداکړی !

جالبه خبره داده چی دنجیب رژیم اودهغوی دبهرنیو چارو وزیر پلورل شوی وکیل دڅه لپاره دامنیت شورا غونډه رابولی ؟

کله چی دروسانو یرغلګر پوځ اودهغوی دهمدی بی پته اجیرانو په لاس زموږ دبی وزلی ولس په سلګونو کسه په یوه ورځ دمرګ کندو ته غورځول کیدل ولی دامنیت شورا غونډه چانه رابلله ؟ چی نن پر خوست دمجاهدینو دحملی په خاطر دهغی فوق العاده غونډه رابلله کیږی !

دروسی حکومت دبهرنیو چارو وزارت ویندوی چی دپاکستان حکومت دافغانستان په کورنیو چارو کی په مداخلی تورن کوی ، په خپله څرنګه ځان ته حق ورکوی چی زموږ په کورنیو چارو کی مداخله وکړی ؟ څوك نه پوهیږی چی مزدور نجیب اودهغه کړی په غوږی یاران کوم چی زموږ دولس قاتلین دي ، دروسانو ترمستقیمی حمایی اوملاتړ لاندی دي اودروسی وسلو په زور زموږ له مجاهدینوسره جنګیږی ایا دملګرو ملتونو دسازمان اودنړی سوله دوست هیوادونه دروسانو اودهغوی دمزدور انو په لاس زموږ دبی ګناه هیوادوالو دیو نیم ملیون انسانانو دوژنی شاهدان ندي ! ایا نړی نه وینی چی دروس ساخت سکډ میزائیل چی دکابل دتخت اوتاج واکداران یې نن (دفتحی څخه وروسته اومخکی) دخوست پر بی ګناه اومظلومو ښاریانو باندی استعمالوی دڅومره کسانو دوژنی اوژوبلیدو سبب ګرځی ؟ اوس چی دخوست دښار په مکملی فتحی سره ددی زمینه ښه مساعده شوی ترڅو بهرنی ژورنالستان اودبین المللی موسساتو استازی له دغو سیمو څخه لیدنه کتنه وکړی ، داخبره به ټولو ته څرګنده شی چی داپاکستانی پوځونه دي چی دخوست دبی وزلیو ښاریانو په وژنه لاس پوری کوی ، که دکابل واکداران ؟ دخوست دتاریخی اوسرنوشت ټاکونکی جګړی له پیل سره سم دمسکو اوکابل ګډی چیغی اوله وارخطایی ډکی ناری سوری پرته لدي چی دخوست په شان دهیواد په نورو سیمو کی دهغوی درسواماتی اوشکست داستان بیان کړی ، نوره هیڅ ګټه نلری ! هغه نړیوال چی دافغانستان دمظلوم ولس ددیارلس کلنی مبارزی اوقربانیو لړی ورته معلومه ده ، نن داپه پوره توګه درك کولای شی چی ددی ډول نارو سورو مطلب څه دی !

زموږ برمیال مجاهدین دحق اوحقانیت په لار کی دنه ستړی کیدونکی مبارزی په تیرو دیارلسوکلونو کی یوازی دخدای (ج) پر بی پناه قوت په بروسی اودخپل ټینګ اوسوچه ایمان په زور دیرغلګرو اودهغوی له مزدورانو سره جنګیدلی او اوس هم جنګیږی !

دمسکو اوکابل دغه بی بنسټه اتهامات اوزهرجن درواغ دافغان مجاهد ولس دمبارزی اوسرښندنی دلاری خنډ نشی ګرځیدای اودامبارزه به انشاالله په ګران هیواد کی دیوه اسلامی نظام په ټینګښت منتج کیږی .

دخوست مشالي فتحه دجهاد په سنگرونو کی نوی جذبه او ...

زیاتوالی له بلی خوا دروسانو دمزدور رژیم دراتسکوربلو په لار کی ځنډونه اوځنډونه رامخی ته کړل ، زموږ په مجاهد ملت ورځ په ورځ دمأیوسی ، تهیلی اوناامیدی لړی خپریدلی او ورسره ورسره دجهاد په لیکو کی درکود حالت رامنځ ته کیده. په دغسی حالاتو کی ترهرڅه دمخه ددغه مأیوسانه فضا دله منځه وړلو اودرکود اوبن بست له حالت څخه دجهادی څواکونو دراایستلو دضرورت احساس کیده اوټول مجاهد ملت همدی ته سترگی په لار وی.ترڅو په دغه لړکی تیرکال دپیاوړی مجاهد الحاج مولانا جلال الدین حقانی اوپو شمیر نورو جهادی قوماندانانو په نوښت اوابتکار دقوماندانانو سرتاسری شورا تأسیس شوه چی هدف یی دجهاد په پوځی ډگرکی دیوی واحدی ستراتیژی رامنځ ته کول ، پر دښمن باندی دگډو اومتحدو عملیاتو سرته رسول اودمجاهدینو ترمنځ دخپل منځی اختلافاتو دله منځه وړل وو .

دقوماندانانو دسرتاسری شورا په رامنځ ته کیدو او دهغی دلومړی اودوهمی پرله پسی اومقدماتی غونډو په نتیجه کی چی په هغو کی دافغانستان له بیلا بیلو سیمو څخه په سلگونو تنو نومیالیو قوماندانانو گډون کړی ؤ، ددی لاری چاری او اری شوی چی مجاهدین خپل منځی اختلافات لری کړی ، دجهادپه پوځی ډگر کی یو واحده ستراتیژی جوړه اوپردښمن باندی دمتحدو یو مخیزو عملیاتو دکولو پروگرام طرحه او په عمل کی پلی کړی چی پرخوست باندی دمجاهدینو گډ عملیات اودهغه په نتیجه کی دیاړلی فتحه ددغه لړی لومړنی کړۍ وه ، چی مجاهدینو وکولی شول چی په ډیر کم وخت او لږو امکاناتو سره یو داسی ستراتیژیکه نقطه فتحه کړی چی دروسانو مزدور رژیم ته یی حیاتی ارزښت درلود ، اودمزدور رژیم مشر لجیب په ډیر غرور سره ویل چی که مجاهدین خوست ونیسی نو زه حاضر یم چی دجمهوری ریاست له څوکی څخه استعفی وکړم ،دخوست ستری اومشالی فتحی دټول هیواد په سطحه دجهاد په سنگرونو کی نوی تحرک اوجذبه رامنځته اودمجاهدینو مورال اوروحیه یی لاپسی پیاوړی کړه .

دجهادی سنگرونو څخه دارسیدلو خبرونو له مخی اوس مجاهدینو دخپلو اړوند سیمو په ځینو برخو کی ددښمن پرپوځی مرکزو اوحکومتی تأسیساتو باندی یو مخیز اوگډ عملیات پیل کړی اوپه ځینو سترو پوځی مرکزونو باندی دمتحدو عملیاتو کولو ته دچمتو والی په حال کی دی. دبیلگی په توگه مجاهدین دخوست له ستری فتحی اودغلته دخپلو سنگرونو ترټینگولو وروسته اوس پر گردیز باندی دیوی ستری اوگډی حملی لپاره ځان چمتو کوی اودغسی دلوگر پرمرکز اوشاوخوا سیمو کی دمزدور رژیم په پوځی مرکزونو اوپوستو دمجاهدینو عملیات دوام لری.

دکابل په ښار کی په ځینو سترو پوځی مرکزونو اوحکومتی تأسیساتو هم دمجاهدینو له خوا ددرنوتوغندیو عملیات پیل شول اودښار په شاوخوا امنیتی کمربندونو دمجاهدینو دعملیاتو لړی روانه ده .

تیره اونی مجاهدینو دباگرام په هوایی ډگر یوی ستری حملی په ترځ دمزدور رژیم څو پوځی مرکزونه اوپوستی له منځه یوړی .اوس مجاهدین دغزنی پر مرکز هم دیوی ستری حملی لپاره ځان چمتو کوی اودغسی د قندهار په مربوطاتو کی دمجاهدینو عملیات چټک شوی اوپه تیرو دوو اونیو کی دمزدور رژیم ډیری زیاتی پوستی فتحه شوی دی .

دننگرهار ولایت پر مرکز جلال آباد باندی دحملی لپاره هم مجاهدین دیوی ستری حملی دچمتوالی په حال کی دی . دهرات په مرکز اوشاوخوا سیمو کی هم دمجاهدینو بریالی عملیات دوام لری او ورسره ورسره مجاهدین دهرات په مرکز باندی دستری حملی لپاره تیاری نیسی. په بغلان کی هم مجاهدینو تیره اونی دبریالیو عملیاتو په لړ کی دمزدور رژیم دخاد اوجاسوسی څاله ړنگه کړه او دښمن ته

(٤)مخ کی

خبرتیا

درنو مجاهدینو ، مهاجرینو او انصارو ورونو !
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډیر درناوي سره خبر درکووچي :
تاسي کولي شئ چي دمجاهد غږ راډیو خپروني فعلاً دورځي دوه نیم ساعته په لاندي وخت او څپو واورئ :

لومړي سهارني خپرونه :
دافغانستان په وخت دسهار له(۵,۳۰) پنځه نیمو بجو څخه تر (۶,۳۰) شپږ نیمو بجو پوري .

دوهمه ماز یگرني خپرونه :
دافغانستان په وخت دماز یگر له(۶,٤۵) شپږ بجو اوپنځه څلویښت دقیقو څخه دماښام تر(۸,۱۵) اتو بجو اوپنځه لسو دقیقو پوري .

څپي :
په منځني څپه(میډیم) ۱۲۰۰ کیلو هیڼز او په لنډه څپه(شارټ) ۳،۲ میگاهیڼز چي له ۹۰ متره بایڼډو سره سمون خوري .
(دمجاهد غږ راډیو دلوي مدیریت له خوا)

رژیم کمونست کابل پیلوتان راجبراً ویا با تطمیع کردن وادار به پرواز های جنگی می نمایند

کابل ، میدیا :
عمال رژیم مزدور وشخصاً نجیب الله رئیس کابل هرروز درمرکز قوماندانی عمومی هوایی خواجه رواش ویا بگرام حضور پیداکرده وپیلوتان رابرای پرواز های جنگی انتخاب نموده ایشانرابادادن یکصد هزار افغانی درهر پرواز اعطای رتبه ،القاب ومدالهای قهرمانی ، جبرا ویا بااینگونه تطمیع کردن ها مجبور به پرواز های جنگی می نمایند.
این مطلب را چهار تن ازپیلوتان رژیم کابل طی گفتگوی باخبرنگار اعزامی میدیا ، درشهر کابل اظهار داشته اند .
بقول این چهار پیلوت ، خانه های اکثر پیلوتان نظامی ازطرف عمال خاد رژیم مخفیانه تحت کنترول میباشد تانشود که خانواده یك پیلوت مخفیانه ازجنگ رژیم فرار کنند زیرا رژیم متیقـن است که اکثر پیلوتان صرف بخاطرنگرانی شدید ازجانب فامیل هایشان ازدساتیر آنها اطاعت می کنند .
ضمناً یکتن ازپیلوتان مصاحبه کننده دررابطه به سقوط یکی ازطیارات جیت مادل (سو ۲۵) ساخت روس که بتاریخ ۹ حمل درچهل ستون کابل توسط دافع هوای مجاهدین سقوط داده شده بود معلومات داده اضافه نمود که طیاره مذکور در یك منزل مسکونی واقع قریه (چهل ستون) سرنگون گردیده بود ، که طیاره وخانه مسکونی بکلی ازبین رفته مگر خوشبختانه دران ساعت اراکین منزل درخانه حاضر نبودند طی این حادثه پیلوت طیاره بنام جگړن (خوشحال) نیز طوری به هلاکت رسید که قطعات جسدش یا سوخته ویابا انفجار طیاره ناپدید شده بود .

عملیات راکتي مجاهدین برمیدان هوایي ...

به اثر عملیات راکتی مجاهدین مستقر درکوه صافی برمیدان هوایی بگرام بیش از پنجاه وچهارتن ازافراد رژیم هلاك تعدادی ازطیارات رژیم خساره مند ویك دیپوی مهمات منفجر گردیده است .

یکی ازقوماندانان مجاهدین مستقر درکوه صافی ضمن ابراز مطالب فوق به خبرنگار جریده جهاد هنداره گفت که مجاهدین بتاریخ ۱۲ حمل با انداخت شانزده مرمی سکربیست برمیدان هوایی بگرام بیست وپنج عسکرو صاحب منصب راهلاك وخط دوش طیارات راشدیدا متضرر نمودند همچنان یك فروند طیاره میگ رژیم که درحال نشست بود نیز دراثر اصابت پارچه راکت شدیدا متضرر گردید .

موصوف علاوه نمود که بتاریخ ۱۳ حمل نیز مجاهدین امرسیداحمد دوازده مرمی سکربرمیدان هوایی بگرام پرتاب کردند که ازاثر ان دوعراده موتر با عمله آن ازبین رفته ونیز به اثر اصابت یك مرمی برکندك ۳ پیاده دوازده تن ازافراد دشمن هلاك گردید وبر ذخایر میدان نیز صدمه وارد گردید

همچنان مجاهدین مستقر درکوه صافی بتاریخ شانزده حمل ده مرمی سکررا بجانب میدان هوایی بگرام انداخت نمودند دراثر اصابت درفامیلی های صاحب منصبان منجربه تلفات وخسارات گردید ازآنجمله براثر اصابت چهار راکت بر قطعه چهل دوتانك باهفده تن ازافراد دشمن نیز ازبین رفته است .

قوماندان مذکور افزود دراثر عملیات دیگر که قبلا انجام گردید دربخش شمال میدان هوایی بگرام بریك دیپوی سلاح ومرمی اصابت نموده دیپوی مذکور آتش گرفت ودرنتیجه انفجار مهمات انبار شده دران به تعداد زیاد طیارات رژیم مستقر درمیدان هوایی شدیداً خساره برداشتند .

دهینئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
تیلفون : ... (٤۱۷٤۶)

دمحمد اغی په ولسوالی کی یوه پوسته فتح اوڅلور عرادی ټانکونه د۳۶عسکروسره ونیول شول

لوگر ، میډیا :
په پیښورکښی دمجاهدینو یوخبرځای دلوگرنه رپورټ ورکړی ، چی دلوگر ولایت مجاهدینو په هغه گډوپراخوتعرضی بریدونو کښی چی دمحمدآغی په ولسوالی کی یی ځای پرځای شوو قواوباندی دحمل په ۲۱مه ترسره کړل، داوږدی جگړی په نتیجه کښی درژیم یوه پوسته فتح (۶)تنه عسکریی دوسلواومهماتوسره مجاهدینوته تسلیم شوی اودرژیم قواوته سخت ځانی اومالی زیان اوښتی .
دخبرځای په رپوټ کی زیاته شوی په تومووړی ورځی دکمونستی رژیم (۳۰) تنه نورعسکر د(۲) عرادو فعاله ټانکونوسره دمحمد آغی ولسوالی په یویله برخه کښی دیوه کمین په ترځ یی له جگړی مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .
خبرځای زیاته کړه دغه رازدرژیم دقواو(۲) نورفعال ټانکونه دعملي اومهماتو سره دلوگر ولایت یوه قوماندان ته تسلیم شوی دی .

دامریکی اواسرائیلو ترمنځ خبري اتري ناکامي شوي

بیت المقدس ، دحمل ۳۰ مه :
په هغه رسمی اعلامیه کی چی دامریکی دبهرنیو چارو وزیر جیمز بیکر اواسرائیلو دصدراعظم اسحق شامیر تر۶ ساعته لیدنی کتنی وروسته خپره شوی ویل شوی چی د دواړو هیوادو ترمنځ اختلافات ندی حل شوی .
جیمز بیکر پدی هڅه کی دی ترڅو دعربو اواسرائیلو یو گډ کنفرانس ته دواړه خواوی چمتو کړی .
داسرائیلو دحکومت یوه ویندوی ویلی دی چی دامریکایی اواسرائیلی حکامو ترمنځ خبرو اترو کی تراوسه هیڅ پرمختگ ندی شوی .
اودلازیاتو مذاکراتو لپاره ضرورت دی .

دسورلی پربوه بس درژیم دبمباری له امله (۳۵) تنه شهیدان شول

ننگرهار، میډیا :
دننگرهار ولایت دخیوی ولسوالی نه دیو عینی شاهد له قوله دمیډیاخبریال خبرورکړی چی دکابل رژیم دځمکنی اوهوایی ځواکونو دهغه پراخو تعرضی بریدونو په لړکی چی دجلال اباد ښارپه شمالی برخه دخیوی ولسوالی او نورگل علاقه داری په شاوخواسیمو باندی یی دکمکی اختر نه دری ورځی مخکی پیل کړی ؤ دحمل په ۲۸ مه یو بس موټر پداسی حال کی چی دکنړولایت له لاری لغمان ولایت ته روان ؤ دکابل رژیم دجیټ الوتکو دبمباری په وخت دنورگل په سیمه کی دیوکانړی سره وجنگیده اودکنړسیند ته وغورځیده چی دهغی ۳۵ تنه سورلی ، سړی اوماشومان شهیدان شول ددغه عینی شاهد دوینا مطابق پدغه دردناکه پیښه کی یواځی موټروان دیو تن مسافر سره دمعجزی په ډول ژوندی پاتی شوی دی .

مجاهدینو دکابل په هوایی ډگر کی ۲ جیټ الوتکی داورلمبه کړی

دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر دپروان ولایت دکوه صافی څخه دراډیویی پیغام په حواله دجهاد هنداری خبریال ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دحمل په ۲۰ نیټه دکابل دخواجه رواش په هوایی ډگر باندی دلری ویشتونکی توغندیو گولی واورولی چی په نتیجه کی په هوایی ډگر کی ولاړی ۲ جیټ الوتکی داورلمبه شوی دی.
رپوټ وایی چی درژیم یو عراده نظامی باروړونکی موټر دیو توغندی دلگیدو په اثر دسپرلیو سره له منځه تللی او دهوایی ډگر ودانیو ته دروند زیان اوښتی دی .

مجاهدینو دگردیز په ښارباندی ددرنو وسلو بریدونه پیل کړل

پکتیا ، دجهاد هنداری خبریال :
دپکتیا ولایت زړورو مجاهدینو دخوست له فتحی وروسته دگردیز په ښارباندی دخپلو درنو وسلو بریدونه پیل کړی دی .
دمجاهدینو یوه خبرځای زموږ خبریال ته وویل چی دمجاهدینو ددغو حملو په وجه دکابل رژیم قواو ته زیات ځانی اومالی تاوان وراوښتی ، دمجاهدینو دغه بریدونه دکابل راډیو هم تائید کړی دی .
بل لوری ته ویل کیږی چی دیوه ډگرمن په گډون ۳۰ تنه پوځیان له گردیز څخه په تیښته بریالی شوی اومجاهدینو ته یی ځانونه تسلیم کړی دی. دغه پوځیانو ویلی چی دگردیز ښار دامنیت کنترول دگلم جم ملیشه و ته سپارل شوی اوهغوی خپل سنگرونه تقویه کوی .
ویل شوی چی دمجاهدینو داحتمالی بریدونو له ویری دکابل رژیم پوځیانو دگردیز ښار یو زیات شمیر اوسیدونکی له ښار څخه نورو سیمو ته لیږدولی دی .